# آیا زه ته د هغه کار لپاره ونه لیږم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې زه لیږلی وم؟ دا چې هېڅ مجسمه مه پرېږده پرته له دې چې ورانه یې کړې او یا هېڅ لوړ قبر مه پرېږده پرته له دې چې برابر یې کړې

له ابو الهيَّاج الاسدي څخه روايت دی وايي چې: قَالَ لِي عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ: أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ أَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ، وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ. ماته علي بن ابي طالب رضي الله عنه وفرمايل: آیا زه ته د هغه کار لپاره ونه لیږم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې زه لیږلی وم؟ دا چې هېڅ مجسمه مه پرېږده پرته له دې چې ورانه یې کړې او یا هېڅ لوړ قبر مه پرېږده پرته له دې چې برابر یې کړې.

[صحيح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپل اصحاب لېږل تر څو هېڅ "مجسمه" له ورانولو پرته پرې نږدي - او له مجسمې څخه مراد د هر سا لرونکي شي انځور دی؛ هغه که مجسمه ولري او یا د انځور په بڼه وي. او دا چې هېڅ لوړ قبر پرېنږدي پرته لدې چې د ځمکې سره یې برابر کړي او د پاسه ودانۍ پرې ونړوي، او یا یې داسې هوار کړي چې له ځمکې ډېر پورته نه وي، یعنې د یوې لوېشتې په اندازه یې پورته کړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5934

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee